مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

د ګل جان صابر ژباړه ۲۰۲۲/۰۱/۱۷

# دوه ګاونډیان

وو نه وو په پخوا زمانو کې په یوه پاچاهي کې دوه ګاونډیان اوسېدل. د دوی یو د خلکو د تېر اېستلو، چل او ول او ناروا له لارې شتمن شو او اوس سوداګر و. بل ګاونډي د خپل رېښتیني کار په پایله کې د ځان لپاره کور جوړ کړ، بڼ یې کېښود او اوس یې بنوالي کوله. یوه ورځ دواړو ګاونډیانو پخپل منځ کې خبرې اترې کولې. دخبرو په ترڅ کې سوداګر بڼوال ته وویل :

- زه تا وینم چې شپه او ورځ په خولې ځان کار کوې. راشه چې زه د پیسو د لاسته راوړلو آسانه لار دروښیم.
- بڼوال پوښتنه ځني وکړه: دا کومه لار ده؟
- سوداګر ورته وویل :ارزانه یې را نیسه او په لوړه بیه یې پلوره، خلک تېرباسه ،دهرې لارې د ډېرو شتو د لاس ته راوړلو په لټه کې اوسه. په دې ډول به ستا شته زیات او هوسا به شې .

بڼوال ځواب ورکړ:

- نه ګاونډیه، زه داسې شتمني نه غواړم. انسان باید د رېښتیني کار له لارې پیسې لاس ته راوړي.

سوداګر د دې خبرې سره موافق نه و. هغوی په دې برخه کې ډېرې خبرې وکړې او په پای کې سوداګر داسې وړاندیز وکړ:

- راځه لارې ته به ووزو، لومړني دری تنه چې مخې ته راغلل پوښتنه به ځنې وکړو چې په موږ دوو کې کوم یو رښتیا وایي. که یې وویل چې ته رښتیا وایې زه خپل ټول شته تاته درکوم او که چېرې زه رېښتینی وم، ته به خپل ټول شته ماته راکوې. دواړو همدا وړاندیز ومانه.

سوداګر او بڼوال دواړه لارې ته راووتل، لږ یا ډېر به تللي وي چې یو ځوان په مخه ورغی. سوداګر ځوان ته وویل:

- زویه، ته زموږ دواړو په منځ کې قضاوت وکړه. زه وایم شته د هرې لارې چې لاسته راوړې بنه دي، ان دا چې که غلا هم وکړې. خو زما ګاونډی وایي نه، شته باید د رېښتیني کار له لارې لاس ته راوړل شي. ته ووایه چې په موږ دوو کې کوم یو رښتیا وایي؟

ځوان ځواب ورکړ:

- ښکاره خبره ده چې ته، ښاغلی سوداګره، رښتیا وایې.

سوداګر خپل ګاونډي ته مخ ورواړاوه او ویې ویل:

- ما نه درته ویل؟

بڼوال د ځوان خبرې ته ډېر اهمیت ور نه کړ، د ځان سره یې وویل چې تر اوسه پورې ځوان دی، د کومه به په دې خبرو پوه شوی وي. هغه سوداګر ته وویل: -ځو به، ما اوتا درې تنه خوښ کړي وو، دوه نور پاتې دي.

هغوی په لاره روان شول، په تلو تلو کې یوه ځنګل ته راورسېدل، ځنګل ته ورننوتل. په ځنګل کې تلل، تلل چې یو شین چمن یې مخې ته راغی. په دې چمن کې د ځمکې ښخه داوبو یوه چینه راوتلې وه. سوداګر او بڼوال د چینې اوبه وڅښلې، لږ دمه یې وکړه او بیا روان شول. لږ شیبه وروسته یو ښکاري په مخه ورغی. د ښکاري د ږیرې ښخه مالومېده چې ښه سړی نه دی.

سوداګر هغه ته ورغی او ورته ویې ویل:

- ښکاري وروره، ته زموږ په منځ کې قضاوت وکړه. زه وایم چې شتمني که د چل او ناروا لارو ښخه هم لاس ته راوړل شي ښه ده خو زما ګاونډی، بڼوال وایي نه، دحلالې لارې شتمني لاس ته راوړل ښه دي. ته ووایه چې په موږ دوو کې کوم یو رېښتینی دی؟

ښکاري وویل:

- ښاغلی سوداګره، ته رېښتینی یې.



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

بنوال غریب په حیرانتیا سره وویل:
- سوداګره وروره، څو به چې دریم کس ولټوو، وګورو چې هغه څه وايي.
بنوال او سوداګر به لږ یا ډېر مزل کړی وي چې یوې کېږدی ته راورسېدل. د
کېږدۍ مخ ته یو سپین ږیری سړی ناست و. دوی سپین ږیري ته سلام ور واچاوه، تر روغبړ وروسته یې هغه ته د
خپلو خبرو اترو کیسه وکړه.
سپین ږیري چې ددوی خبرې واورېدې ویې ویل:
- زه فکر کوم چې سوداګر رښتیا وايي.
بنوال چې د سپین ږیري ځواب واورېد نږدې و چې لېونی شي. هغه له ځان سره وویل:
"په زړه پورې ده، آیا په دې شا و خوا کې کوم یو ښه او رښتینی څوک شته؟ هر څوک چې وینې، تېراېستلواو
درواغو ته ښه وايي".
بنوال د سپین ږیري څخه پوښتنه وکړه:
- سپین ږیریه، ته په خپله څه کار کوې؟
سپین ږیري ځواب ورکړ:
- زه د پاچا جلاد وم.
بنوال له ځان سره وویل: «د جلاد څخه به څوک څه د انصاف تمه ولري؟»
بنوال شرط بایلود او دې ته اړ شو چې د خپل رښتینې کار په پایله کې لاس ته راوړې ټول شته سوداګر ته ورکړي.
هغه چې تش لاس پاتې شو له ځان سره یې فکر وکړ چې د داسې خلکو په منځ کې نه شي اوسېدلی نو ښه ده چې
کوم بل ځای ته ولاړ شي. همداسې یې وکړل او په سفر روان شو. د شپو ورځو ځند کېږي د خبرو نه، بنوال تلو،تلو
چې په یوه دښته کې یوه غار ته راورسېد. د غار شا او خواته نبغ، نبغ ګړنګونه وو. تېز باران اورېده، دغار پرته بل
هېڅ د پټېدو ځای نه و. بنوال د غار لورې ته ور رهي شو، غار ته وروړسېد او ور ننوت، ګوري چې دا غار د کوم
چا د اوسېدو ځای دی. په غار کې هر څه دومره ډېر دي چې سړی حیران ورته پاتې کېږي. په یوه کونج کې ګاڼې
او جواهرات پراته دي په بل کې ارزښتمنې(قیمتي)ټوټې، لږ اخوا د غنمو او وریجو ډک جوالونه. څه وو چې هلته نه
وو!
د ماښام تیاره خوره شوه. باران په شېبو، شېبو اورېده.بنوال غوښتل چې د غار څخه ووزي خو ویې لیدل چې یوه ډله
خلک د غار لوري ته را روان دي. بنوال د غار په وروستی برخه کې پټ شو. خلک ټول غار ته راننوتل، آرام
کیناستل،
دسترخوان یې وغوړاوه او په خوړلو یې پیل وکړ. د دوی د خبرو څخه مالومه شوه چې دا څلوېښت تنه غله دي او
غار یې د اوسېدو ځای دی. غلو د پاچا د خزانې د غلا کولو په پلان خبرې وکړې. د دوی مشر هر یوه ته خپله دنده
وروښووله او وروسته له هغې ټولو وسلې او مهمات ورسره واخیستل او روان شول. په غلو پسې بنوال هم د غار
څخه راووت او کومې خوا ته وتښتېد.
غلو په ډېره ځیرکتیا د پاچا خزانه لوټ کړه، غلا شوې ځیزونه یې په اوښانو بار کړل او خپل غار ته یې یووړل. سبا
سهار هره خوا آوازه خپره شوه چې بېګاه شپه د پاچا خزانه غلو وړې ده. پاچا د دربار ټول خلک راوغوښتل او امر
یې ورته وکړ چې غله پیدا کړي.
د پاچا د ښي مټ وزیر راولاړ شو، ملا یې ټیټه کړه او ویې ویل:
- د پاچا عمر د ډېر وي، دا څه نوې خبره نه ده. څو کاله کېږي چې دا غله د خلکو شته غلا کوي. هېڅوک نه شي
کولی چې هغوی ونیسي، ان دا چې څوک نه پوهېږي چې دوی چېرې اوسېږي.
- پاچا وویل: نه غواړم چې هېڅ خبره واورم. یوځ د ټول ښار ولټوي، غله د را پیدا کړي که د ځمکې لاندې هم وي.
د پاچا نافرماني باید و نه شي نو ځکه وزیر، مشاورین او ټول درباریان د یوځي ډلو سره یو ځای د غلو په لټولو پسې
ووتل. لټونه اووه شپې او اووه ورځې اوږده شوه خو د غلو هېڅ درک معلوم نه شو، ټول په تش لاس بېرته پاچاهي
مانۍ ته راغلل.
بېوزله بنوال ښار ته په لاره کې د پاچا د خزانې د غلا کېدو خبره واورېده. هغه چې د دې غلا د غلو څخه ښه خبر
و د پاچا مانۍ ته راغی او د ساتونکو څخه یې وغوښتل چې پاچا ته یې ورولي. پاچا ته یې چې وروست په ملا ټیټ
شو او ویې ویل:
- د پاچا عمر د ډېر وي، زه پوهېږم چې ستا د خزانې غله چېرې اوسېږي.
پاچا چیغه کړه:
- که چېرې دا رښتیا و نو نیمه خزانه یې ستا.
بنوال ځواب ورکړ:
- د پاچا عمر د ډېر وي، زما ستا د خزانې هېڅ څه په کار نه دي.ستا د ښار څخه لږ لېرې یو غار دی، په هغه کې
څلوېښت تنه غله اوسېږي، دې غلو ستا خزانه هلته وړې او پټه کړې ده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

پاچا په بېړه نه زره نه سوه نه نوي په تورو سنبال سپاره سرتېري غار ته ورولېږل. د پاچا سرتېرو هلته په غار کې د پاچا د خزانې برسېره نور ډېر ځېزونه پیدا کړل خو هلته هېڅوک نه وو. سرتېرو کمین ونیو، خو غله بیا هم راښکاره نه شول. په غار کې چې څه وو ټول یې په اوښانو بار کړل او پاچاهي مانۍ ته یې راوړل. پاچا خورا ډېر خوشاله و.

پاچا بنوال ته وویل:

- سپین ږیریه! زه په خپله خبره ولاړ یم، د دې شتو نیمایي ستا دي.

بنوال ځواب ورکړ:

- د پاچا عمر د ډېر وي، څه وخت مخکې زه هم ستا په څېر یوه سوداګر لوټ او تباه کړم، زما ټول شته یې راټخه ولوټل. له همدې امله زما د خپل ژوند د بیا سنبالولو لپاره یو موټی سره زر بس دي.

پاچا د بنوال خبره ونه منله:

- یو موټی سره زر لږ دي، مه شرمېږه، ډېر څه وغواړه.

بنوال ځواب ورکړ:

- پاچا د تل جوړ او روغ وي، د غلو په غار کې ستا پر خزانه برسېره د نورو خلکو هم ډېر غلا شوي توکي وو. بده به نه وي که دا ځېزونه د هغو خپلو خاوندانو ته ورکړی.

پاچا د بنوال خبره ومنله. جارچي په ښار کې د پاچا فرمان د خلکو غوږو ته وروساوه. هرچا خپل شته یوووړل. بنوال هم د پاچا په اسرار سره زر واخستل او د خپل ټاټوبي په لور روان شو. دری شپې او دری ورځې یې مزل وکړ چې خپل ښار ته راورسېد. د پاچا په ورکړ شوو سروزرو یې ورو، ورو ځان ته بیا کور او بڼ جوړ کړل او په لږ وخت کې یې خپله پخوانی سوکالي بېرته تر لاسه کړه.

د بنوال ګاونډي، سوداګر چې دا حال ولید هغه ته راغی او د ستړی مه شي څخه وروسته یې پوښتنه ځني وکړه:

- ګاونډیه! ته خو بېخي تباه شوی وې، نو دا شته د له کومه کړل؟

بنوال پوهېده چې سوداګر څومره ډېر وږسترګی دی او اوس هم د کومې بلې چالاکي په برخه کې فکر کوي نو ځکه یې داسي ځواب ورکړ:

- په پلاني ښار کې ډېر کلونه ځلوېښتو غلو غلاوي کولې او خلک یې لوټول. خبره تر دې ځایه راورسېده چې هغوی د پاچا خزانه هم لوټ کړه. زه ناڅاپه خبر شوم چې غله چېرته اوسېږي، پاچا ته مې د غلو د اوسېدو ځای وروښوود. د پاچا نوکرانو غله له منځه یووړل او د خلکو غلاشوي شتمنی یې بېرته ورکړلې. خلکو ماته د مننې په ډول ډېر سوغاتونه راکړل. ته هم که غواړې چې شتمني تر لاسه کړې نو دې ښار ته ولاړ شه، هر څوک چې په مخه درتلل ورته وایه چې دا ته وې چې پاچا ته دې د غلو د اوسېدو ځای وروښوود. خلک به تاته هم سره او سپین زر درکړي او ته به بېله دې چې خواري وکړې خپله شتمني ډېره کړې.

وږسترګي سوداګر د بنوال په خبره باور وکړ، کورته ولاړ، خپله خورجین یې واخېستله او د همغه ښار لوري ته روان شو. ښار ته چې وروړسېد د ښار د دېواله سره یې دری تنه ولیدل. سوداګر هغوی ته ورغی او ورته ویې ویل:

- تاسو ما پېژنئ چې څوک یم؟

هغوی ځواب ورکړ:

- نه، موږ تا نه پېژنو.

سوداګر ورته وویل:

- زه هغه سړی یم چې پاچا ته مې د ځلوېښتو غلو د اوسېدو غار ور وښوود.

دا دری تنه د همغو ځلوېښتو غلو د ډلې څخه وو. هغوی چې د داسې څه تمه نه لرله، چیغه کړه:

- واه،واه،دا ده خوشالي! موږ ته هر چېرې ولټولې خو پیدا مو نه کړې. ته خپل کور راوښیه، موږ به تا ته دومره سوغاتونه دروړو چې په ځایولو پسې به یې و نه رسېږې.

سوداګر دوی ته خپل د اوسېدو ځای ور وښود. غلو خپل نور ملګري هم خبر کړل او سیخ د سوداګر کور ته ورغلل. هغوی د سوداګر د کور څخه ټول هغه څه یووړل چې په وړلو ارزېدل او سوداګر یې تر مرګه وواهه.

سوداګر دری شپې او دری ورځې بې هوښه پروت و، نږدې و چې مړ شي خو مړ نه شو .سوداګر ورو، ورو په روغېدو و چې یوه ورځ یې بنوال د لیدلو لپاره ورغی.

سوداګر چې خپل ګاونډی ولید ورته ویې ویل:

- وینې یې چې څه را پېښ شول؟

بنوال ځواب ورکړ:

- ښاغلی سوداګره، زه پخوا پوهېدم چې داسې به کېږي. چې په غلطه یې په لاس راوړې- همداسې به ورکېږي.

د آذربایجان د خلکو کیسه

د ګل جان صابر ژباړه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځير و لولئ